# تر ځواني په افغانستان کې (ناول)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ليکوال: نعمت الله رحيمي**

# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



.............کتاب پېژندنه:.................................................................................................................

د کتاب نوم: **تر ځوانی په افغانستان کې (ناول)**

لیکوال: **نعمت الله رحیمي**

اړیکه: **Niamatullahr3@gmail.com**

کمپوز: **خپله لیکوال**

د خپریدو کال: **2022 زېږدیز ـ ۱۴۰۰لمریز کال**

..........................................................................................................................................

ددې کتاب چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۹۸ز - غزني، افغانستان

د ژمي وروستۍ ورځې وې د طالبانو د واکمنۍ وخت و، فقر، لوږې او بې روزګارۍ زور کړی و، په عمر پخه شمایله له خپل درې اولادونو سر په کور کې یوازې اوسیده، بختور وو هغوی چې د درې ځانښتو ډوډۍ پیدا کولو یوه سرچینه یې درلوده توپیر یې نهٔ کولو چې هرچیرته وي خو خلک د یوې ګولې ډوډۍ پیدا کولو لپاره پردیسي هم قبلوله دې شمایلې خاوند کابل کې کار کولو په میاشتو یې د راتګ کوم درک نهٔ و، شمایلې یو پنځه کلن زوی او دوې لونې یې درلودې چې مشره لور یې ۸ کلنه وه...

د ماسپښین وخت ؤ خپلې مشرې لور حدیثې ته یې غږ وکړ:

- حدیثې لورې!

څو شیبې وروسته حدیثې د کور له انګړ را منډه کړه د خونې له دروازې یې سر دننه کړ په مُسکۍ لهجه یې وویل:

- څه دې ویل ببو؟
- فرهاد او سیما چیرې؟
- اوبو پسې تللي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه شیبه یې مور غلې شوه سوړ اسویلی یې وویست بیا یې وویل:
- لورکۍ! ورسه د برنډې په سر بدنۍ ایښې هغه را ډکه کړه لمر تیز دی لمر ته یې کیده چې د مازدیگر اوداسه ته اوبه گرمې سي

حدیثې د سر په خوځولو د هو ځواب ورکړ او بیرته ولاړه، څو شیبې وروسته ماشومان راغلل خویندو په انگر کې لوبې کولې خو فرهاد غلی ناست و حدیثه چې د دوی منځ کې هوښیاره وه لوبې یې پریښودې د ورور څنگ ته یې کیناسته ورو یې وویل:
- ولې داسې غلی ناست یې ؟

فرهاد د حدیثې لوري ته نظر کړ نرتوب په کوچني عمر نهٔ پریښود چې ودې ژاړي خو د لمر وړانگو یې په لمدو سترگو کې څرک وهلو، حدیثې د واره وویل:
- ته ژاړې؟
- نه! نهٔ ژاړم خو!
- خو څه؟

ژر یې په لستوڼې اوښکې پاکې کړې په ژړغوني غږ یې وویل:
- پلار به مو کله راځي؟ ژمی تیر سو د کلي هلکان راته وايي چې ستا پلار مړ شوی

بې باکه سلگۍ یې وهلې، حدیثې یې پر سر لاس تیر کړ ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښهٔ هلکان نهٔ ژاړي، گونگی دې شي چا چې داسې خبره کړې پلار به نن او سبا کې بیرته را ستون شي

د فرهاد سترگې رډې رډې را ووتلې په حیرت یې وویل:

- ریښتیا!؟

- هو خود!

فرهاد منډه کړه د سیما څنگ ته ورغی ویې ویل:

- سیما پوهیږې پلار مې راځي

سیما نادانه انجلۍ وه خوښي یې څرگنده کړه خو څه یې ونهٔ ویل...

مازدیگر شو د رڼا لمر په لویدو و خو د فرهاد د هیلې لمر را ختلی و شاید خدای نهٔ غوښتل د فرهاد دا خوښي د شپې او ورځې وځنډیږي د مازدیگر په راتگ هوا سړیده درې واړه یې له مور سره ناست وو، فرهاد وویل:

- ببو!

- هو زویه

- پلار به مې راته نوې جامې هم راوړي؟

مور یې هیڅ ونهٔ ویل لنډه شیبه وروسته فرهاد بیا وویل:

- ژمی هم خلاص سو څپلۍ به هم راته راوړي او...

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا خبره نهٔ وه خلاصه چې دروازه ټک ټک شوه، هیچا څه ونهٔ ویل فرهاد په منډه دروازې ته ورغی دروازه یې پرانیسته، د واره یې ناره کړه:

- حدیثې! سیما! پلار راغی

حدیثه، سیما او مور یې په بیړه ور ووتل، پلار یې فرهاد غیږې ته پورته کړ ویې ویل:

- وه زما زمریه! ته خو ځوان شوی یې

ماشومانو یې پلار د دروازې سره ایسار کړی و گرد ترې را تاو وو، شمایله د انگړ منځ کې دریدلې وه او د خوښۍ اوښکې یې سترگو کې ډنډ وې په ژړغوني اواز یې وویل:

- پریږدئ پلار مو دننه راشي ساړه دي

ټول دننه راغلل ناست وو، گړۍ ووتله چې فرهاد وویل:

- پلاره! پنډوکی د چیرې؟ ماته د څه راوړل؟

پلار یې شیبه غلی و ویې ویل:

- شمایلې! هرڅه ټول کړه چې سبا کابل ته کډه وړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمايلې په حيرت سره وويل:
- څنګه!؟
- بس نور نهٔ کيږي هلته د يوازې ځان کرايه ورکوم او د بيرته راتګ لپاره راسره پيسې نهٔ پاتې کيږي کور مې نيولی نور به هلته اوسيږو

شمايله په حيرت وه چې بيا يې وويل:
- وه ښځې راځئ شيان ټول کړو، نهٔ ګورې زوی او لونړو ته مې هيڅ نهٔ دي راوړي صرف ستاسو د بيولو لپاره راغلی يم

شمايلې په خواشينې لهجه وويل:
- ښه ته چې چيرې ځې موږ ځو ته موږ ته هرڅه يې اوس به هم هره ورځ اولادونو يادولې

شپه د څيزونو ټولولو کې تيره شوه، سهار ؤ يو جيپ ډوله موټر يې راوست شمايلې يې خاوند ته وويل:
- وه سړيه! دا دومره کوچني موټر کې به دا څيزونه ځای سي؟
- اړ يو بله لاره نسته، همدا جيپان چې پيدا کيږي هم غنيمت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګړۍ وروسته هر څه موټر کې ځای پر ځای شول شمایله او لوڼې يې شاته کیناستل او فرهاد يې د پلار غيږ کې مخ سيټ کې ناست ؤ، موټر حرکت وکړ...

د لارې په لړ کې موټر چلوونکي وويل:

- وروره! کهٔ خپه کيږې نه پيته (کيسټه) ور واچوم

د فرهاد پلار هيڅ ونهٔ ويل د سر په اشاره يې د هو ځواب ورکړ، موټر چلوونکي ټايپ ته پيته ور واچوله سندره غږيده او موټر چلوونکي ورته سر خوځولو، شيبې تيريدې موټر چلوونکی د سندرې له اوريدو خوند اخيستو چې وړاندې چيک پواينټ ښکاريدو موټر چلوونکي د ټايپ تنۍ بار بار کيکاږله خو پيتې د راوتلو نوم نهٔ اخيستو ډيره خوارې يې وکړه پيته را ونهٔ وتله او چيک پواينټ را ورسيد پر چيک پواينټ ولاړ يوه وسله وال موټر چلوونکی له ګريوان را ونيولو او له موټر يې ښکته کړ، د وسله والو مشر غږ کړ:

- څه يې کړې؟

- د کاپر موټر کې سندره چالانه کړې او چيک پواينټ ته په راتګ يې هم سترګې ونهٔ سوځيدې

موټر چلوونکي په خواشينې لهجه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- صیب غلطي وشوه بیا نهٔ تکراریږي
- ته شرمیږې نه؟ دله تورسرې درسره ناسته ده او ته سندرې غږوې؟
- وبښه صیب دا ځل مې پریږدئ بیا داسې نهٔ کوم

چا د موټر چلوونکي خبره وانه وریدله او تر پښو لاندې یې واچولو، له ډیر عذر او زاریو وروسته یې خوشي کړ او بیرته موټر ته را پورته شو، موټر چلوونکی غلی ناست و او د څه ویلو حال کې نهٔ و لاره داسې نهٔ وه جوړه چې موټر دې تیز پرې وزغلي ماسپښین ؤ د فرهاد پلار وویل:

- وستازه! که دلته چیرې موټر ودروې چې لمونځ وکړو گني قضاء کیږي
- هو وﷲ ښه خبره دې وکړه

د میدان ښار چوک ته را ورسیدل یوې څنډې ته یې موټر ودرولو او جومات ته ولاړل، فرهاد د جومات انگړ کې ناست ؤ څو شیبې وروسته یې پلار راغی او د موټر چلوونکي په تمه د فرهاد څنگ ته کیناست، فرهاد لنډه شیبه وروسته وویل:

- پلاره !
- ووایه زویه؟
- چې کابل ته لاړ شو جامې او څپلۍ راته اخلې؟
- هو زویه هرڅه درته اخلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیبه وروسته موټر چلوونکی راغی ویې ویل:
- راځئ چې ځو لمونځ مې وکړ

روان شول موټر چلوونکي وویل:
- خدای دې قبول کړي

سوړ اسویلی یې وویست بیا یې وویل:
- خدایه! ته خو وینې چې پنځه وخته تاته په سُجده یم خو بیا هم هره ورځ د کاپر ټاپه راباندې لږي

څو شیبې وروسته تر موټر ورسیدل موټر حرکت وکړ...

کابل ته لږ لاره پاتې وه موټر چلوونکي وویل:
- وښه وروره ستا نوم څه دی؟
- زما نوم شیرخان دی
- ښه شیرخانه وروره! کابل ته مو ولې کډه راوړه؟

شیرخان سوړ اسویلی وویست ویې ویل:
- آه وروره! مجبوري وطن پریښودلو ته بیخي اړ کړی یم خو کابل کې کار کوم میاشتې میاشتې له کور لیرې نشم اوسیدی کور کې بل نارینه نهٔ لرم سل خبرې دي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر چلوونکي ترڅو خبره کوله د کابل لومړی دروازې چیک پواینټ را ورسیدو موټر ودرید یوه وسله وال د نومونو پوښتنه او ځینې نورې پوښتنې وکړې موټر حرکت کولو چې یو بل وسله وال راغی ویې ویل:

- تم شئ! لمونځ مو کړی؟

موټر چلوونکي په مُسکی لهجه وویل:

- هو! خدای دې قبول کړي

وسله واله ترخه مُسکا وکړه ویې ویل:

- ههه چې وې کړئ قبول بهٔ شي

شیرخان یې د خبرو منځ ته ور ولوید ویې ویل:

- نه صیب، پخدای لمونځ مو وکړ

- ښه؟

- هو قسم مې درته وکړ

وسله وال یوه شیبه غلی شو بیا یې وویل:

- له قسم مو بیخي شوتله جوړه کړې ښکته شئ لمونځ وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره نشته وه اړ وو بيا د دوی پر وړاندې لمونځ وکړي، شيبې وروسته يې لمونځ وکړ او د تللو اجازه يې ورکړه موټر حرکت وکړ...

څو شيبې وروسته شيرخان موټر چلوونکي ته کتل د موټر چلوونکي پرې نظر شو ويې ويل:

- ههه! شيرخانه وروره ځه خدای دې په نفلو کې حساب کړي هره ورځ دا حال وي

- بس خدای دې غيبي رحم وکړي

ګړۍ وروسته د کابل کمپنۍ سيمې ته را ورسيدل شيرخان موټر چلوونکي ته لارښوونه کوله او تر کور را ورسيدل د هرڅه ځای پر ځای کول ګړۍ ونيولې...

ماښام و د کور دروازه وټکيده شيرخان ستړی و ويې ويل:

- هله فرهاد زويه وګوره څوک دي؟

فرهاد د دروازې په لور ور منډه کړه دروازه يې پرانيسته يوه ماشومه وه يو پنډوکی يې په لاس کې ؤ د وطني دود له مخې يې د هرکلي په پاره خواږه راوړي وو ماشومې وويل:

- دا لوښي بيا سبا هغه مخامخ کور ته راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهاد څه ونۀ ویل دروازه یې بیرته وتړله او کور ته دننه ولاړ، راوړي خواړه یې مورته ورکړل مور یې وویل:

- خدای دې خیر ورکړي هسې هرڅه تیک پرک دي ستړې وم د څه پخولو ته مې له وسه هم نۀ کیدل

دې شپې ډوډۍ وخوړل شوه، ماشومان یو او بل خوا ویده وو، شمایلې شیرخان ته ورو وویل:

- دې ماشومانو سره ژمنې مه کوه زه پوهیږم پیسې نۀ لرې

شیرخان په خواشینې لهجه وویل:

- څه وکړم؟ اولاد دی پر ما ډیر حق لري خو موږ افغانان دومره بدبخته یو چې نۀ مو خپله ځواني په ارامه تیره کړه نه به د نورو نسلونو تیره شي

شمایلې څه ونۀ ویل، شیبه وروسته یې د خوب ځای تیار کړ ویې ویل:

- ورکېکه! پربوځه خدای بهٔ رحم وکړي

شپه پهٔ رڼیدو وه چې شیرخان پاڅیدو ورو یې پهٔ شمایلې غږ وکړ:

- ښځې، وه ښځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمایلې له برستنې ببر سر را وویست ویې ویل:
- څه دي سرېه؟ چې نیمه شپه کې ویښ یې؟
- نیمه شپه نه! پنځه نیمې بجې دي

یوه شیبه غلی شو بیا یې وویل:
- زه باید لاړ شم دا مې ویل چې ماشومانو ته پام کوه د باندې ډېر ونهٔ وځې دا کابل دی
- ښه سرېه سمه ده نهٔ بهٔ وځې...

شیرخان څادر تر ځان چاپیر کړ بې له دې چې شور جوړ شي ولاړ...

ګړۍ وروسته شمایلې سترګې پرانیستې او لمونځ یې وکړ د سلام لهٔ ګرځولو سره سم فرهاد هم سترګې پرانیستې او د یوې بلې ورځ په هیله راویښ شو مورکۍ ته یې ځیر شو شیبه وروسته یې د پلار د خوب ځای ته نظر کړ په بیړه یې وویل:
- ببو! پلار مې چیرې؟

مور یې دعا ته لاسونه لپه کړي وو، د دعا له خلاصیدو وروسته یې فرهاد ته ور وکتل ورو یې وویل:
- پلار دې ولاړ کار او روزګار پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خو دومره وختي؟
- هو زويه څه وکړي نو وايي لاره ليرې ده

فرهاد څه ونهٔ ويل خو خفګان يې له ليرې پر شونډو ښکاريدو...

وخت نهٔ تم کيدو که ښه و که بد تيريدو د سهار چای تيار شو شمايلې ماشومان راويښ کړل فرهاد څنګ ته ناست و حديثې پرې غږ کړ:
- اې راشه چای وڅکه بيا تر غرمې وږی نشې پاتې کيدی

فرهاد تندی تريو کړ په ترخه لهجه يې وويل:
- بوره نشته تريخ چای مې له مری نهٔ تيريږي

حديثې څه ونه ويل، شيبه وروسته يې مور وويل:
- راشه زويه نن ګذاره وکړه بيا دې پلار بوره هم راوړي

فرهاد هيڅ ونهٔ ويل پر خپل ضد ولاړ و مور يې ور پورته شوه او څو ځپيړې يې ووهلو له ځانه سره يې ويل:
- خاصه خور شوی يې، خلکو ته وچه ډوډۍ هم نهٔ رسيږي د پلار حالت ته دې نهٔ ګورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهاد مړې سلګۍ وهلې او اوښکو يې په ګريوان سيلاب جوړ و، حديثه پورته شوه او د مور له لاسه يې خلاص کړ...

په خونه کې ژير لمر و فرهاد د کړکۍ څنډې ته خواشينی ناست و مور يې خونه جارو کوله د فرهاد لور ته يې وکتل سترګې يې له اوښکو ډکې شوې نږدې ورغله ويې ويل:
- زما لاس د مات شي چې په تا مې وار کولو

زوی ته يې کلکه غيږه ورکړه بيا يې وويل:
- خو خير زوی مې جار شم هرڅه به سم شي اوس لږ ګذاره کوه

د فرهاد زړه ډک و په زوره زوره يې د مور په غيږ کې وژړل او زړه يې تش کړ چې شيبه وروسته سيما د خونې له دروازې سر دننه کړ ويې ويل:
- راځه هغه ګاوندۍ چې د شپې يې ډوډۍ راوړې وه راغلې راشه موږ لوبې کوو

فرهاد ژر اوښکې پاکې کړ او د باندې ورغی د کور په انګړ کې کيناست او د دوی لوبې يې څارلې سيما بيا راغله ويې ويل:
- راشه ته لوبې نهٔ کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهاد ورو وویل:

- زه له هغه انجلۍ شرمیږم!

سیما بیرته ولاړه، څو شیبې وروسته هغه ماشومه راغله د فرهاد څنګ ته کیناسته ویې ویل:

- پوهیږې؟
- نه په څه؟
- زه هیڅ ملګري نهٔ لرم تاسو چې راغلئ ډیره خوشحاله شوم

فرهاد مُسک شو انجلۍ بیا وویل:

- زما نوم روبینه دی ستا نوم څه دی؟
- فرهاد
- ښه فرهاده راځه موږ سره لوبې وکړه نور به ملګري یو

فرهاد ورسره لاړ او په لوبو بوخت شول...

شپې او ورځې تیریدې، که ښې وې او که بدې وخت ته یې توپیر نهٔ کولو دوه میاشتې تیر شوې...

ماښام و تړول په خونه کې را تړول وو، شیبه وروسته دروازه ټک ټک شوه، فرهاد منډه کړه او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پلار مې دی!

شیبه وروسته یې دروازه پرانیسته پلار یې و پهٔ لاس کې یوه توره پلاستیکي کڅوړه وه، د فرهاد پر شونډو مُسکا خوره شوه خو څه یې ونه ویل غلی یې خپل پلار تر خونې بدرګه کړ، پلار یې کیناست شیبه وروسته یې پلاستیکي کڅوړه شمایلې ته ور کړه ویې ویل:
- واخله ښځې څپلۍ دې نشته وې دا مې درته راوړې

فرهاد تندی تریو کړ ناهیلی له خونې ووت څو شیبې ناست و په انګړ کې یې یو کارتن وموند له ځانه سره یې واخیست او خونې ته دننه شو د خونې کونج کې کیناست قیچي یې را واخیسته او له کارتن یې ځانته د څپلۍ په څیر یو څه جوړ کړل چې ګواکي د پلار ورته پام شي او څپلۍ ورته راوړي خو پلار یې که لیدلو هم نا ګومانه و، څو شیبې ووتې فرهاد اړ شو نږدې ورشي او ورته ویې ښیي، نږدې ورغی او له کارتن جوړې شوې څپلۍ یې د خپل پلار مخې ته کیښودلې فرهاد وویل:
- پلاره دا وینې...

د فرهاد خبره لا نهٔ وه خلاصه چې پلار یې وویل:
- وه د اغه زوی خو پوهیږم چې څپلۍ نهٔ لرې زه پیسې له کومه کړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيبه غلې شو، له سترګو يې اوښکې په بهيدو شوې او په ژړغوني غږ يې وويل:

- دا زموږ افغانانو ژوند شو! له ماشومتوبه تر ځوانۍ په افغانستان کې موږ د ارام ساه ونهٔ خيسته، خپلې هيلې خو مو تر خاورو لاندې کړې اوس د اولادونو هيلې...

خبره يې نيم کې پاتې شوه چې پهٔ خپل زړه يې لاس کيښود ځای پر ځای پريوت شمايلې غږ کړ:

- څه وشول سړيه؟ حديثې ورشه اوبه راوړه

حديثه پهٔ بيړه له خونې ووتله تياره وه ترڅو حديثې اوبه راوړلې څو شيبې تيرې شوې، شيرخان وويل:

- ما وبښه زويه چې ستا يوه هيله مې پوره نهٔ کړه ...

له ډير کوښښ وروسته هم ونهٔ توانيدو چې وړاندې بله خبره وکړي او مړ شو...

پهٔ کور کې يوه غوغا وه، چغې او شور و ماشومانو د پلار سرته ژړل خو شمايله ګونګۍ وه يو اوف يې هم ونهٔ کړ، ګړۍ وروسته ځينې ګاونډيان راغلل او د ميت پهٔ کفن کولو کې يې مرسته وکړه، د غم تياره رڼه شوه، غربت نهٔ پريښودل چې خپل پلار د خپلې پلرنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هديرې ته يوسي او هلته يې د خاورو ته وسپاري اړ وو د ګاونډيانو په مرسته کابل کې يې خاورو ته وسپاري...

ګړۍ وروسته څلور کسان پيدا شول چې د شيرخان کټ ته اوږه ورکړي جنازه له کور ووتله او د ړنګ کابل د يوه غره په سره يې خاورو ته وسپارله...

د يوې لور او زوی اتل او د يوې کورنۍ تکيه ګاه او د هيلو لوی غر ونړيدو...

ورځې تيرې شوې شمايله ګونګې شوې وه، اولادونو يې بار بار پرې د «بيو» غږ کولو خو له خولې يې يوه خبره نهٔ راوتله، ددې کورنۍ درې ځانښته ډوډۍ د ګاونډيانو پهٔ مهربانۍ پيدا کيدله...

يوه مياشت تيره شوه، سهار و ماشومانو له روبينې سره د کور پهٔ انګړ کې لوبې کولې او فرهاد په خونه کې د مور څنګ ته ناست و، مور ته يې ځير شو په ژړغوني غږ يې وويل:

- ببو! دا ټول زما د لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور يې ور وکتل د لاس په اشاره يې خپل څنګ ته ور وغوښت د کور کلۍ يې په لاس کې ورکړه د اسمان خوا ځير شوه سترګې ونهٔ يې رپيدې فرهاد په بيړه وويل:

- ببو!!!

خو نهٔ پوهيدو چې ببو يې خپل روح حق ته سپارلی ځو ځلې يې وښوروله بيا يې وويل:

- ببو!

په بيړه د باندې ووت غږ يې کړ:

- حديثې! ببو مې!

حديثه په بيړه راغله څو ځلې يې په خپلې مور غږ وکړ خو هيڅ ونه شول رنګ يې ژيړ واوښت خړه پړه کيناسته، د مور پر سترګو يې خپل کوچني لاسونه را تير کړل په ژړغوني غږ يې وويل:

- ببو مړه سوه!

له يوه کور د يوې مياشت په موده کې يوازې دوه جسدونه نه هزار هيلې او اميدونه هم تر خاورو لاندې شول، مورکۍ يې د پلار څنګ ته خاورو ته وسپارله او دوی د روبينې پلار چې ډير زړه سواندی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ځانه سره خپل کور ته بیول، د کور اړین څیزونه یې د روبینې دوی کور ته یوړل او درې یتیمانو ته یې فناه ورکړه...

څو ورځې تیرې شوې خو دا یو کوچنی زخم نهٔ و چې بیرته دې ژر را ډک شي...

مازدیګر و فرهاد د کور پهٔ انګړ کې ناست و د روبینې پلار له دندې راغی فرهاد یې په انګړ کې ولید څنګ ته یې کیناست ویې ویل:
- زویه! دا هم نشم ویلی چې مه خپه کیږه خو په خفګان نهٔ ستا پلار بیا ژوندی کیږي نه ستا مورکۍ، زه ژمنه کوم تل درسره مل یم خو ته اوس د دوه خویندو ورور نه د یوې کورنۍ مشر یې

څو شیبې غلی شو ولاړ شو او د فرهاد په اوږه یې لاس کیښود ویې ویل:
- ځان له لاسه مه ورکوه زه ستا د پلار پهٔ څېر یم

فرهاد پهٔ نهٔ زړه مُسک شو د روبینې پلار لاړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه شوه سهار وخته فرهاد په سوچونو کې غرق د کور په انګړ کې ناست و د روبينې پلار دندې ته روان و له دروازې وتلو چې فرهاد غږ کړ:

- اکا!

د روبينې پلار شاته ور وکتل ويې ويل:

- ووايه زويه؟

فرهاد ته نهٔ ور جوړيدل چې څنګه ووايي، د روبينې پلار بيا وويل:

- هن زويه ووايه مه شرميږه

له شيبې چوپتيا وروسته فرهاد وويل:

- اکا يو څه پيسې که راکړې؟ قرض!

- سمه ده زويه، خو! پيسې څه کوې؟

- اکا زه هيڅوک نهٔ لرم او تا پرون وويل چې ته د يوې کورنۍ مشر يې نهٔ غواړم داسې عادت شم غواړم کار وکړم

- خو... خو! زويه ته به څه کار وکړې ښار کې حالت ښهٔ نهٔ دی.

فرهاد هيڅ ونهٔ ويل د روبينې پلار له جيب پيسې راوباسلې ور يې کړې ويې ويل:

- واخله، خو! د هرې ورځې حساب درنه غواړم د خدای په پار په بده لاره مه ځه ګني خدای ته به زه ملامت يم، زه له اوس لس کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته هم حاضر یم تاسو لکه خپل اولاد وساتم خو ته چې شله یې واخله.

- سمه ده، اکا.

د روبینې پلار ولاړ خو شیبې وروسته فرهاد خونې ته دننه ولاړ حدیثې ته یې وویل:

- زه ځم کار پسې

حدیثې په حیرت وویل:

- څنگه کار؟

- ته یې څه کوې؟ پریږده یې

هیڅ یې ونهٔ ویل او د باندې لاړ فرهاد پوه شوی و چې بې له خپله ځانه یې هیڅوک نشته اړ و یو کار وکړي، د کابل له کمپنۍ سیمې تر کوټه سنگي پیاده ولاړ پهٔ لاره یې ځینې ماشومان ولیدل چې پلاستیکي کڅوړې پلوري، یوې هټۍ ته ورغی زړه نا زړه ولاړ و د څه ویلو همت پکې نهٔ وو هټیوال ورته ځیر شو ویې ویل:

- معاف کُن

فرهاد نهٔ پوهیدو چې هټیوال ورته دې خیرغوښتونکي گومان وکړ، فرهاد ورو وویل:

- اکا! دا پلاستیکي کڅوړې دانه پهٔ څو دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هټیوال سترګې رډې رډې را وباسلې ویې ویل:
- دانه نهٔ خرڅیږي، پهٔ کیلو دي!

هټیوال یوه شیبه غلی شو، له شیبې چوپتیا وروسته یې وویل:
- څو روپۍ لرې؟

فرهاد پهٔ کوچنیو لاسونو خپلې شته پیسې ورکړې
هټیوال پلاستیکې کڅوړې په تله کې واچولې او ور یې کړې...

فرهاد ډیر بې خولې او ژبې ماشوم و داسې وخت نهٔ و پرې راغلې د پلار نازدانه زوی و خو اړ و پهٔ سپین سترګۍ دا پلاستیکي کڅوړې وپلوري، خو فقر او بې وسۍ دومره زور کړی و چې چا حتیٰ ددې پلاستیکي کڅوړو پیرلو توان نهٔ درلود، ورځې، اونۍ او میاشتې تیرې شوې فرهاد خپلې ګټلې پیسې سپمولې ترڅو ځانته پرې یو کار او روزګار جوړ کړي...

- ۲۰۰۱ز، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان خو له موسم هم په بيړه رنگ بدلوي، بيا نظامونه بدل شول د حامد کرزي د واکمنۍ کم وخت کيدو، فرهاد ۷ کلن شوی و، دانجونو او هلکانو ښوونځيو بيا فعاليت پيل کړی و

روبينې ښوونځی پيل کړی و خو هغه د فرهاد او خويندو سره ملگرتيا يې په بخيلۍ بدله شوې وه هغې حس کولو چې پلار يې دوی ته ډيره مينه ورکوي او دې ته يې هيڅ پام نهٔ دی.

سهار و روبينه ښوونځي ته تلله فرهاد ويښ و خو سر يې په بړستنه کې دننه کړی و، خويندې يې ويښې وې سيما وويل:
- حديثې! کاش مو د ښوونځي جامې لرلی موږ به هم تللو

حديثې ورو وويل:
- تش جامې خو نهٔ دي، کتابچه، قلم او شل نور څيزونه دي، زړه خو زما هم کيږي خو...

فرهاد اوس هوښيار شوی و خپلې هيلې يې تر خاورو لاندې کړې وې د خويندو هيلې يې خپلې گڼلې، شيبه وروسته پاڅيدو او لاړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت څه نا څه ښهٔ شوی و، فرهاد اوس د کابل کوڅه کوڅه پیژنده، بانک ته ولاړ او هغه پیسې چې سپمولې یې وې له ځانه سره واخیستې ترڅو یو کار پرې پیل کړي، د همغه هټۍ مخ ته ودرید چې مخکې به یې ترې پلاستیکې کڅوړې پیرودلې هټیوال ته یې پیسې ورکړې ویې ویل:

- ددې ټولو پلاستیکې کڅوړې راکړه

هټیوال رډ رډ ور وکتل ویې ویل:

- فرهاده بچیه! ته دا دومره وخت چیرته وې؟

فرهاد وویل:

- هغه د ښار حالت ګډوډ و ځکه تراوسه کور کې وم

هټیوال وویل:

- ښه! نو ځکه نهٔ یې خبر چې دغه پیسې اوس نهٔ چلیږي

د فرهاد له سترګو مړې اوښکې راغلې په ژړغوني غږ یې وویل:

- څنګه؟

هټیوال په مُسکۍ لهجه وویل:

- قربان زویه! مه خپه کیږه بانک یې تبادله کوي نوي لوټونه درکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هټیوال شیبه غلی شو بیا یې وویل:
- هغه بیا چلیږي!

فرهاد په خواشیني لهجه وویل:
- بانک چیرته دی؟

هټیوال یوه شیبه په سوچ کې ډوب شو بیا یې وویل:
- زویه! تهٔ داسې وکړه زه بهٔ درته نوې پیسې درکړم هغه ماته راکړه زه بهٔ یې بیا په نویو بدلې کړم.

فرهاد مُسک شو ویې ویل:
- ښه نو اکا هر څو روپۍ چې کیږي د هغې پلاستیکي کڅوړې راکړه

هټیوال فرهاد ته ځیر شو شیبه وروسته یې له جیب پیسې را وباسلې ویې ویل:
- ته دا پیسې واخله

د فرهاد سترګې ورغړیدې غلی شو هټیوال پنځوس افغانۍ نورې ورته په لاس کې کیښودې ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- واخله دا پنځوس نورې هم اوس ورځه دمه وکړه سر لهٔ سبا ورځې به ماسره کار کوې

فرهاد مُسک شو ویې ویل:

- ریښتیا؟
- ههه هو خود

فرهاد پهٔ خوښۍ بیرته روان شو هټیوال ور ناره کړه:

- زویه! ماته خان اکا وایي، سل خبرې دي که خدای مه کړه سبا رانغلم نو زما پوښتنه له چا وکړه پته به درکړي

فرهاد د سر پهٔ خوځولو د هو ځواب ورکړ او لاړ...

ګړۍ وروسته کور ته ورسید، کورته د رسیدو سره سم یې د روبینې مور ته غږ وکړ:

- حمیدې خاله!

شیبه وروسته د روبینې مور راغله ویې ویل:

- څه دي فرهاده زویه؟ خیریت خو دی؟

ترڅو فرهاد خبره کوله ښځه بیا په خندا شوه ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هههه! وه د خدای بنده ماته تش خاله وایه
- ولې؟
- خو اول مې نوم اخلې بیا خاله وایې تردې تش خاله وایه
- ښه خاله
- هو رښتیا څه دې ویل؟

فرهاد له خپل جیب پیسې را وباسلې ور یې کړې ویې ویل:
- خاله هغه دا...
- ووایه زویه
- په دې پیسو به مې خویندو ته د ښوونځي جامې جوړ نهٔ کړې؟

ښځه مُسکۍ شوه ویې ویل:
- ځار شم ستا له د نارینه خوی ولې به یې نهٔ جوړوم

فرهاد په مُسکۍ شونډو دننه ولاړ، خویندو ته یې څهٔ ونه ویل، پهٔ ارامه زړه پریوت او ویده شو...

ماښام کیدونکی و، د فرهاد پر مخ د یخو اوبو څاڅکي تویې شول ژر را پاڅیدو له کړکۍ څخه یې د انګړ خواته نظر شو خویندو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښوونځي جامې اغوستې وې لکه د سولې کوترې پکې ګردې را تاويدې، روبينه د خونې له وره سره ولاړه وه فرهاد ناره کړه:

- زور درکوي؟ ههههه!

روبينې هيڅ ونهٔ ويل، فرهاد يوه شيبه په سوچ کې ډوب شو بيا يې وويل:

- ته صبر زما پر مخ اوبه تا وشيندلې

روبينې منډه واخيسته فرهاد ورپسې و...

د فرهاد شپه پهٔ خوښۍ تيره شوه، ځکه د خويندو لومړۍ غوښتنه يې پوره کړې وه، سهار وختي پاڅيدلی و خويندې يې له خوبه را ويښې کړې، ويې ويل:

- ويښې شئ! روبينه درته پهٔ تمه ده ښوونځي ته ناوخته کيږي

شيبه غلې شو بيا يې وويل:

- حديثې؟

حديثه تازه له خوبه راويښه وه په خوبجن غږ يې وويل:

- اممم! څه وايې؟
- ما کار پيدا کړی نور بهٔ له ځای ځای ګرځيدلو خلاص وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



روبینه نیغه کیناسته ویې ویل:

- څنګه کار؟

- له هغه هېیوال به مې چې پلاستیکي کڅوړې اخیستې هغه راته وویل چې نور له ماسره په هټۍ کې کار کوه

روبینه غلې شوه، شیبه وروسته فرهاد وویل:

- نو ستاسو د ښوونځي د جامو پیسې خو له اسمان را ونهٔ لویدلې، خان اکا راکړې!

- خان اکا څوک شو؟

- همغه هتیوال!

فرهاد شیبه وروسته بیا وویل:

- ښه نو ځم تاسو هم له روبینې سره یوځای ځئ او یوځای بیرته راځئ، یوازې مه ځئ

فرهاد له کور ووتلو، زړه یې د خوښۍ ټوپونه وهل ځکه د کار لومړۍ ورځ یې وه

ګړۍ وروسته هټۍ ته ورسید خان اکا چای دم کړی و، فرهاد غلی له هټۍ د باندې ودرید خان اکا برګ برګ ور وکتل ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې داسې ولاړ يې

شيبه غلی شو بيا يې وويل:
- ليونيه! دا هتې ستا خپله ده بې زړه مه اوسه او چې زهٔ نهٔ وم دا هتې خو به ته سمبالوې

فرهاد مُسک شو پهٔ بيړه هتې ته دننه شو

خان اکا له غولي يوه پياله را پورته کړه فرهاد ته يې ورکړه ويې ويل:
- هن! دا ومينځه راشه چای وڅښه

فرهاد پياله ومينځله له چايو يې ډکه کړه د خان اکا څنګ ته کيناست، خان اکا له چای غوړپ وکړ ويې ويل:
- فرهاده زويه! ته ښوونځي ته ځې؟

فرهاد د چايو پياله په غولي کيښوده ويې ويل:
- خان اکا! نن مې خپلې خويندې وليږلې ښوونځي ته، تاته خو مې پخوا کيسه کړې وه چې مور او پلار مو نشته.

يوه شيبه غلی شو بيا يې وويل:
- هغوی تعليم وکړي بس ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان اکا تندی تریو کړ، په غوصه یې وویل:

- خان اکا دې مړ دی چې داسې وایې؟

فرهاد هیڅ ونهٔ ویل، خان اکا په خندا وویل:

- ههههه! زهٔ خو یم سر له سبا به اول ښوونځي ته ځې بیا به هټۍ ته راځې

دې فرهاد سترګې لهٔ اوښکو ډکې شوې خان اکا پهٔ بیړه وویل:

- ولې ولې؟! لکه چې زما پهٔ غوصه خپه شوې؟

فرهاد پهٔ ژړغوني غږ وویل:

- نه اکا... پلار مې را یاد شو

- زه دې پلار هیڅکله نشم کیدای، خو زه ستا د پلار پرځای یم پام چې خفګان ونهٔ کړې...

خان اکا د چایو پیاله ورسره واخیسته د باندې لاړ بل هټۍ واله یې ځنګ ته راغی ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خان اکا! پرون د ویل چې کار نشته او نن هټۍ کې کاریګر ګمارې؟

خان اکا د سرې په اوږه لاس واچولو وړاندې لاړل ویې ویل:
- همدومره کوچنی یتیم شوم خو دومره نرتوب مې نهٔ درلود لکه دا ماشوم یې چې لري، زه دې د یوه وخت ډوډۍ نهٔ خورم خو نهٔ پرېږدم دا ماشوم د سړک پهٔ سر بې لارې شي

ورځې، شپې، اونۍ، میاشتې او کلونه تیر شول ډیرې یخې او ګرمې سختې او اسانه تیرې شوې خو فرهاد ماته ونهٔ منله وسیله خان اکا شو خو زور د فرهاد پهٔ مټو راتلو، د روزګار سختیو له فرهاد یو چُپ انسان جوړ کړی و...

۲۰۱۶ز - کابل

د خان اکا د هټۍ مخه پهٔ ګلانو پوښلې وه ټول هټیوال را غونډ وو، یو لاروی راغی د یوه هټیوال په غوږ کې یې ورو وویل:
- د چا واده دی؟

هټیوال برګ برګ ور وکتل ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ده ته ګوره! نن فرهاد له پوهنتون فارغ شو دا ټول یې هرکلي ته را غونډ شوي

لاروي کس څه ونه ویل غلی روان شو، شیبه وروسته پهٔ ونه دنګ پهٔ رنګ ښکلی ځوان را ښکاره شو د خلکو له منځ یوه کس غږ کړ:
- خان اکا فرهاد راغی!

خان اکا مخکې منډه واخیسته، فرهاد ته یې غیږه ورکړه پهٔ زوره یې وویل:
- وګورئ خلکو ویل مې کهٔ نه چې بچی به مې لوی سړی جوړیږي

د فرهاد سترګې لهٔ اوښکو ډکې شوې خان اکا وویل:
- غلی شه یاره اوس نو اوښکې مه تویوه

د خلکو له ګڼه ګوڼې یوه ځوان غږ کړ:
- خان اکا، وایي فرهاد پوهنتون کې ډیرو انجونو پهٔ تنګ کړی و، هغوی نهٔ پوهیدې چې دا ژړندوکی دی

ټول پهٔ خندا شول، ګڼه ګوڼه ختمه شوه خان اکا د فرهاد پهٔ اوږه لاس واچولو وړاندې ولاړل خان اکا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ځه نو زویه نور درسره نهٔ ښايي چې دلته کار وکړې زهٔ به دې هم فارغ کړم، تا ویل چې دنده دې پیدا کړې تر فراغت ورته پهٔ تمه وې نور آزاد يې ما چې ځهٔ کولای شو ومې کړل

فرهاد د خان اکا لاسونو ته شونډې ور وړې ښکل يې کړل ويې ويل:

- استغفرلله، اکا زهٔ ستا زوی يم، که مې دنده واخیسته هم هر مازدیگر بهٔ دې لیدو ته راځم

خان اکا مُسک شو ويې ويل:

- ههه قربان بچی! ورځه اوس کور ته خویندې به دې هم تلوسه لري چې د فراغت پهٔ جامو کې دې وګوري

فرهاد سوړ اسويلی وويست ويې ويل:

- خویندې نه! خور یوه خو واده شوه خدای دې مل شي په کیلومترونو لیرې لندن کې ده او هلته یوه شیشکه هم شته چې له کور يې زړه راته تور کړی دی.

- هههه! هغه رويینه چې هره ورځ يې شکایت کوې؟

فرهاد وخندل خه يې ونهٔ ویل او روان شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو دقیقې وروسته کور ته ورسید دروازه یې ټک ټک کړه، چا دروازه خلاصه نهٔ کړه موبایل یې را وویست د سیما شمیره یې ډایله کړه زنګ یې تیر کړ خو ځواب یې ورنکړ څو ځلې یې کوښښ وکړ خو ځواب یې ورنکړ لهٔ ځانه سره یې وویل:

- اړ یم شیشکې ته زنګ ووهم!

د روبینې شمیره یې ډایله کړه زنګ یې تیر کړ ځواب یې نهٔ ورکولو شیبه وروسته د موبایل د زنګ شرنګهار واوریدل شو، دروازه خلاصه شوه، فرهاد پهٔ غوصه وویل:

- کفر کیدو چې موبایل ته دې ځواب ورکړی وای؟

روبینې شونډې پوڅې کړې ویې ویل:

- کار دې وشو ته چیرته زما داسې پهٔ اندیښنه وې چې زما د پوښتنې لپاره دې زنګ ووهې

فرهاد څهٔ ونهٔ ویل روبینې ورو وویل:

- بیچاره ته چې څوک دروازه خلاصه نهٔ کړي بیا ماته احتیاج شي

فرهاد پهٔ غوصه وویل:

- د زړه خبره پهٔ زړه کې کوه غږ دې اورم

- واوره زه لهٔ چا نهٔ ویریږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



روبینه غلې شوه، شیبه وروسته یې وویل:
- ځه دننه څه ته راته ګورې؟
- ته له مخې ایسته شه چې دننه ولاړ شم

روبینه له مخې ایسته شوه فرهاد دننه ولاړ شاته یې ور وکتل ویې ویل:
- او ته کومه مادوري یې چې زه تاته وګورم
- هغه ماته نشي رسیدلای
- ځه خیرنې
- خیرن به خپله وې

فرهاد خپل پیکي باندې لاس کش کړ ویې ویل:
- لاړم تاسره مې وخت نهٔ ضایع کوم

فرهاد خونې ته دننه شو نارې یې وهلې:
- سیما وه سیما

چا غږ ونهٔ کړ روبینې بیا د خونې ته وره سر دننه کړ ویې ویل:
- چغې مه وهه، زما خونه کې ده.
- نو زنګ ته یې ولې ځواب نهٔ ورکولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زهٔ څه پوه شم او رښتیا مبارک! اوس ونهٔ وایې چې بخیلي یې وشوه د فراغت مبارکي یې رانکړه

روبینې منډه واخیسته، فرهاد کیناست له ځان سره یې وویل:
- دا انجلۍ له ما څهٔ غواړي زهٔ خو هیڅ نهٔ پوهیږم

بیا یې لهٔ ځان سره وویل:
- هسې نهٔ روبینې ددې پهٔ ویلو زما زنګ ته ځواب نهٔ وي ورکړی، ورکیکه! لمونځ بهٔ وکړم

اودس یې وکړ د لمانځه آخري رکعت کې و چې د خونې ور خلاص شو، شیبه وروسته فرهاد سلام وګرځولو، سیما لمدې سترګې د وره سره ولاړه وه فرهاد دعا وکړه او پهٔ بیړه یې د خور لوري ته ورغی اوښکې یې ورته پاکې کړې ویې ویل:
- څهٔ شوي ؟
- کاش نن ببو او پلار هم وای ته یې لیدلی وای

د فرهاد سترګو کې هم اوښکې ډنډ شوې خو دی د خپلو خویندو قوت و نهٔ یې غوښتل هغوی ځان وبایلي پهٔ نهٔ زړه یې وخندل ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه چې کیدل وشول، هغه یوه تېره ده چې
چې څه دې کړل هغه دې وکړل
اوس مې اوس مې سالو پهٔ مخ را خور کړه خوب راځینه، اوس د راتلونکې سوچ کوه تیر شول خو شکر پهٔ دې چې خدای شته او ښهٔ بنده گان یې شته.

سیما ژر خپلې اوښکې پاکې کړې پهٔ بیره یې وویل:
- ربنتیا! اوس لندن کې هم لس نیمې بجې وي شاید حدیثې راته ویلې وو چې پهٔ سکایپ زنگ ووهم
- هو هو سمه ده سکایپ به وکړو ورته

څو شیبې وروسته یې حدیثې ته پهٔ سکایپ زنگ وکړ د حدیثې پهٔ سترگو کې خوشحالۍ نارې وهلې څو شیبې یې خبرې وکړې حدیثې وویل:
- سیما ته ورشه روبینې ته غږ وکړه یادیږي مې

سیما ولاړه حدیثې پهٔ بیره وویل:
- فرهاده هغه مې پهٔ بهانه ولیږله یوه خبره وه
- هن څهٔ خبره؟
- انجلۍ پیغله شوې تر تا یو کال لویه ده واده یې باید وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهاد شیبه په سوچ کې ډوب شو بیا یې وویل:
- ښهٔ وایې خو داسې یوه ښه کورنۍ پیدا شي چې زما د اوږو بار هم سپک شي
- کورنۍ شته کنه!
- څوک؟
- زما د اکا خسر زوی دی همدلته لندن کې دی ښه هلک دی تعلیم یې هم کړی ده.

فرهاد له شیبې چوپتیا وروسته وویل:
- ته خو لیرې ولاړې دا هم رانه لیرې بیایې

سوړ اسویلی یې وویست بیا یې وویل:
- ښه ځه خیر خو سیما چې واده شي زه بیا دلته نشم اوسیدلی ته یو څه موده صبر وکړه سبا د هغې دندې لپاره ځم چې څهٔ کیږي که وشو تنخوا زیاته راکوي بیا به یو کور پهٔ کرایه ونیسم د سیما واده بهٔ هم وکړو
- اممم، ته هم ښهٔ وایې خو خیر لږ به تم شو
- ځه نو بند به یې کړم ته به هم کار لرې
- صبر هغه روبینې سره خو خبرې وکړم

- ځه پریږده هغه شیشکې سره خو هیڅ خبرې مه کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهاد اړیکه پرې کړه، چې سیما له روبینې سره راغله روبینې په بیړه وویل:

- څه شو موبایل؟

فرهاد په خندا وویل:

- بند مې کړ حدیثې ویل زه شیشکې سره خبرې نهٔ کوم

روبینه چې څومره شوخه وه هغومره نازولې او ښکلې هم وه، د فرهاد دې خبرې زور ورکړ سترګو کې یې اوښکې راغلې بې له څه ویلو یې منډه واخیسته او لاړه...

سیما د واره وویل:

- ته ولې دا انجلۍ باندې لړې؟

- واه یوه ورځ هغې ته ووایه چې ما باندې ولې لړي

سیما څهٔ ونه ویل، کیناسته...

دا شپه هم تیره شوه، فرهاد د تل په څیر وخته له خوبه ویښ شوی و، سیما یې ویښه نهٔ کړه او لاړ...

لومړی د خان اکا هټۍ ته ورغی خان اکا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تاته مې پرون څه وویل؟

فرهاد په خندا وویل:

- خان اکا ته نو ما په زوره شرې د دندې لپاره مې آزموینه ده راغلم چې تاته ووایم (دعا راته کوه)

- څه بچی! زما دعا تل درسره ده، ان شاءالله بریالی کیږې به

فرهاد لاړ، ګړۍ وروسته هغه دفتر ته ورسید چې شاید د کلونو کار او دندې وسیله یې و، په زړورتیا د رئیس مخ ته کیناست، رئیس ورته ځیر شو ویې ویل:

- اممم! اسنادونه خو دې ټول غوره دي په ښو نمرو تر دې ځای رسیدلی یې

رئیس شیبه غلی شو، بیا یې وویل:

- تجربه لرې؟

- نه لومړۍ دنده به همدا وي چې کوم یې هیله ده چې اړتیا پیدا نشي ددې ځای د تجربې سند بل ځای ته یوسم

رئیس وخندل ویې ویل:

- د بازارموندنې یوه خوبې خو لرې، چالاک یې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهاد مُسک شو، رئیس د میز لهٔ سر د ښځنلو اوبو بوتل را پورته کړ، فرهاد ته یې ورکړ، فرهاد وویل:

- نه مننه تږی نهٔ یم!

- د ښځنلو لپاره یې نهٔ درکوم، دا پهٔ ما خرخ کړه

فرهاد یوه شیبه غلی شو ویې ویل:

- تاسو تږي یاست؟

- نه

- نو ترڅو تږی نشې زه دا نشم خرڅولای

- مطلب؟

- مطلب د بازارموندنې لومړۍ اصل اړتیا ده زه باید تا اړ کړم ترڅو دا اوبه وپیرې.

رئیس پهٔ سوچ کې ډوب شو د باندې سکرتړ ته یې غږ کړ:

- دې بازارموندنې د مدیریت د بست لپاره چې نور کوم غوښتونکي راغلي رخصت یې کړه

فرهاد وویل:

- ښه محاورې ته دوام ورکړو؟

- هو پهٔ راتلونکي کې بهٔ ډیرې محاورې ولرو اوس دې درته مبارک وي ته وګمارل شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهاد لهٔ ډيرې خوښۍ رئيس ته غيږه ورکړه رئيس وويل:

- ههههه! ښه ښه

د فرهاد ښې ورځې پيل شوې، کال تير شو فرهاد خپلواک شوی و ښه تنخوا يې اخيسته او ښهٔ خوشحاله و...

خپل کاري دفتر کې ناست و له حديثې سره يې خبرې کولې حديثې د سيما د واده پهٔ اړه وويل:

- اوس خو شکر ستا کار او روزګار شته ته هم ځوان يې ستا او د سيما واده بهٔ په يوه وخت وکړو لګښت به هم کم راشي او موږ به هم دا انديښنه نهٔ کوو چې ته يوازې يې

فرهاد سوړ اسويلی وويست ويې ويل:

- سمه ده چاره نشته نو، خو! زما واده اوس پريږدئ زه ورته تيار نهٔ يم

موبايل يې بند کړ او د رئيس دفتر ته لاړ ويې ويل:

- رئيس صيب کهٔ نن وختي لاړ شم طبيعت مې لږ ګډوډ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رئیس صیب وویل:

- زموږ نازولی کارمند یې ګڼي مازدیګر مو ستا لپاره پلان نیولی و

- څنګه پلان؟

رئیس څو شیبې غلی شو، د خپله کاري میز له روک یې د موټر کلی را واخیستې فرهاد ته یې ورکړې ویې ویل:

- ستا له راتګ وروسته زموږ د کمپنۍ محصولاتو په خرڅلاو کې ۴۵٪ زیاتوالی راغلی دې باندې ولاړ موټر زموږ لخوا تاته ډالۍ ده.

فرهاد پهٔ حیرانتیا وویل:

- څه؟

رئیس یې مُسک شو ویې ویل:

- ههه! څه چې طبیعت دې ګډوډ دی نوي موټر کې د لاړ شه

- ډیره مننه رئیس صیب

فرهاد کهٔ څه هم د خپل واده پهٔ اړه سوچونو پهٔ سر اخیستی و د کمپنۍ لخوا ورکړي موټر ته ډیر خوشحاله و، دقیقې وروسته خپل کور ته ورسید څنګ ته ودرید مخامخ کور ته یې وکتل هغه کور چې پلار او مور یې پکې له لاسه ورکړي وو بیا رغیدلی و ورته ځیر شو ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پلاره، ببو! کاش اوس ژوندی وای

د کور په دروازې سپینې پاڼې ته یې پام شو لیکلي وو « د خرخلاو کور» لهٔ ځان سره یې وویل:

- د پلار او ببو آخري یاد دی باید لهٔ لاسه یې ور نهٔ کړم

موټر یې دروازې ته نږدې کړل هارن یې ووهلو، شیبه وروسته سیما له دروازې سر را وباسلو پوهه نهٔ شوه چې فرهاد دی ژر پړونی تر مخ تاو کړ فرهاد وخندل د موټر لهٔ کړکۍ یې سر وباسلو ناره یې کړه:

- لویه دروازه خلاصه کړه زه یم

موټر یې کور ته دننه کړ له موټر ښکته شو، سیما پهٔ بیړه وویل:

- د چا موټر دی

فرهاد پهٔ خپل پیکي لاس کش کړ ویې ویل:

- د ورور دې ده، کمپنۍ ډالۍ راکړ

- رښتیا!؟

- هو خود!

ماښام شو، فرهاد حدیثې ته زنګ وکړ او د رووینې د واده پهٔ اړه یې د هو ځواب ورکړ موبایل یې بند کړ، د خونې کړکۍ ته نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيناست د کور دروازه خلاصه شوه، روبينه له پوهنتون راغله دروازه يې بنده کړه موټر ته ځير شوه له موټر شاوخوا راتاو شوه ټاير يې په لغته ووهلو يو دم موټر په خپل سر هارن وهل پيل کړل او څراغونه يې گل او بل کيدل روبينې منډه واخيسته فرهاد د باندې ور ووتلو په روبينه يې غږ وکړ:

- زور يې درکړ چې په لغتو يې وهې

- څه پردي موټر باندې غرور مکوه

فرهاد له شيبې چوپتيا وروسته وويل:

- ښښنه غواړم! که زما له امله خپه شوې وې مخامخ کور واله سره مې خبره کړې سبا يې کارونه خلاصيږي همدې يوې اونۍ کې د سيما واده هم کوو بيا مناسبه نهٔ ده چې زه دې دلته و اوسم

لومړی ځل و چې روبينه غلې وه بې له څه ويلو روانه شوه فرهاد غږ کړ:

- او زما واده هم دی!

روبينه ولاړه شپه پخه شوه، تياري بيا خپل څادر خور کړی و د شپې ۱۲:۰۰ بجې وې په انگړ کې د چا د ژړلو غږ فرهاد له خوبه ويښ کړ، له خپل ځای پاڅيد د باندې ووتلو روبينه ناسته وه په ژړغوني غږ يې لهٔ ځان سره ويل:

- داسې اسانه ده! ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه شیبه غلې شوه بیا یې په سلګو سلګو وویل:
- زهٔ به اوس چاسره جنګ کوم؟ څوک بهٔ ځوروم، واده کوي! ودې کړي ماته یې څه؟

یوه شیبه غلې شوه، بیا یې وویل:
- کم عقل دومره کاله پوه نشو چې مینه ورسره لرم

فرهاد ورو ور روان شو، څنګ یې کیناست روبینې ور وکتل حک پک شوه فرهاد وویل:
- څوک خپل کیدونکي خاوند ته کم عقل وايي؟

روبینې پهٔ بیړه وویل:
- څه؟ چتې خپل زړه مه خوشحالوه

فرهاد هیڅ ونهٔ ویل بیرته پاڅیدو، روبینې پهٔ بیړه وویل:
- چیرې ځې؟
- خو تا وویل زړه مه خوشحالوه ځم بل چاسره به واده وکړم
- مړ به دې کړم، کینه!

فرهاد کیناست ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ژوند راته زده کړي چې « بې له تا ستا هیڅوک نشته» خو ته ما لرې

یوه شیبه غلی شو بیا یې وویل:

- بیا ونهٔ ژاړې... شیشکې سره ژړا خوند نهٔ کوي

روبینې وویل:

- ماسره واده کوې؟

فرهاد پهٔ خواشینې لهجه وویل:

- نه!
- ولې ؟
- غواړم سبق ته مې دوام ورکړم
- هههه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــــــــــای!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**